## په بانکي معاملوکې د منقول مالونو درهن دقانون دتوشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

گڼه : (۵۰)

نېټه : ۱۳۸۸/۳/۱۰

لومړۍ ماده :

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپیتمی مادې د(۱٦) فقرې دحکم پربنسټ په بانکي معاملوکې د منقول مالونو درهن قانون چې د (۷) فصلونو او (۵۰) مادو په دننه کې دملي شوري دولسي جرگې د ۱۳۸۸/۱/۱۸ نېټې د (۱۲٦) گڼې مصوبې او دمشرانو جرگې د ۱۳۸۸/۱/۳۰ نېټې د (۱۰۹) گڼې مصوبو پربنسټ ، تصویب شوی دی، توشېح کوم.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون رهن اموال منقول درمعاملات بانکی

شماره : (۵۰)

تاریخ : ۱۳۸۸/۳/۱۰

مادهٔ اول :

به تأسی ازحکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ شصت وچهارم قانون اساسی افغانستان ، قانون رهن اموال منقول درمعاملات بانکی را که به داخل (۷) فصل و(۵۰) ماده بر اساس مصوبات شماره (۱۲٦) مؤرخ ۱۳۸۸/۱/۱۸ ولسی جرگه و (۱۰۹) مؤرخ ۱۳۸۸/۱/۳۰ مشرانو جرگه شورای ملی تصویب گردیده است، توشیح میدارم.

دوه یمه ماده :

دغه فرمان دتوشیح له نېټې څخه نافذ اولــه قــانون او دملــي شــوري دمجلسینو له مصوبو سره یوځــای دې په رسمي جریده کې خپورشي.

مادۀ دوم :

ایـــن فرمـــان از تـــاریخ توشـــیح نافذ و همراه با قانون و مـــصوبات مجلـــسین شـــورای ملـــی در جریدۀ رســمی نــشر گــردد.

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي**
**جمهوریت رئیس**

**حامد کرزی**
**رئیس جمهوری اسلامی**
**افغانستان**

## د ولسي جرګه

## مصوبه

## په بانکي معاملوکې دمنقول مالونو درهن قانون

پرله پسې ګڼه : (۱۲٦)

دتصويب نېټه : ۱۳۸۸/۱/۱۸

ولسي جرګې دافغانستان داساسي قانون د اوونوي يمې مادې دحکم پربنسټ، دشنبې ورځې په عمومي غونډه کې په بانکي معاملوکې دمنقولو مالونو درهن قانون په اووه فصلونو او (۵۰) مادوکې د۱۳۸۸ کال دوري دمياشتې په ۱۸ نېټې تصويب کړ.

په درنښت

عبدالستار خواصی

دولسي جرګې منشي

## ولسی جرگه

## مصوبهٔ

## قانون رهن اموال منقول درمعاملات بانکی

شماره مسلسل : (۱۲٦)

تاریخ تصویب : ۱۳۸۷/۱/۱۸

به تأسی از حکم مادهٔ نودوهفتم قانون اساسی افغانستان ، ولسی جرگه درجلسهٔ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳۸۸/۱/۱۸ قانون رهن اموا ل منقول در معاملات بانکی را به داخل هفت فصل و (۵۰) ماده به تصویب رسانید.

با احترام

عبدالستار خواصی

منشی ولسی جرگه

دافغانستان اسلامي
جمهوريت ملي شوري
مشرانو جرگه
دارالانشاء
د مشرانو جرگه مصوبه
د بانكي معاملوكې دمنقول
مالونو درهن قانون په هكله

گڼه : (۱۰۹)
نېټه : ۱۳۸۸/۱/۳۰

مشرانو جرگې دافغانستان د اساسی قانون د اوونوي يمې مادې دحكم سره سم،د ۱۳۸۸لمريزكال د وري دمياشتې د دېرشمې نېټې په عمومى غونډه كې دبانكي معاملوكې دمنقولو مالونو درهن قانون په (۷) فصلونواو(۵۰)مادوكې تصويب كړ.

په درنښت
سيدحامد گيلانى
دمشرانوجرگې لمړى نايب

شوراى ملى جمهورى اسلامى
افغانستان
مشرانو جرگه
دارالانشاء
مصوبۀ مشرانو جرگه
درمورد قانون رهن اموال
منقول درمعاملات بانكى

شماره : (۱۰۹)
تاريخ : ۱۳۸۸/۱/۳۰

به تأسى از حكم مادۀ نود و هفتم قانون اساسى افغانستان ، قانون رهن اموال منقول درمعاملات بانكى درجلسۀ عمومى مؤرخ ۱۳۸۸/۱/۳۰ مشرانوجرگه در (۷) فصل و (۵۰) ماده به تصويب رسيد.

با احترام
سيد حامد گيلانى
نايب اول مشرانو جرگه

# فهرست مندرجات

## قانون رهن اموال منقول

## درمعاملات بانکی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | ضرورت وضع.................................... | ۱ |
| مادۀ دوم: | هدف.......................................... | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات.................................... | ۲ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق قانون برمعاملات................... | ۱۲ |
| مادۀ پنجم : | ساحۀتطبیق قانون براشخاص...................... | ۱۳ |
| مادۀ ششم: | موارد رهن.................................... | ۱۵ |


## فصل دوم

## انشای حق رهن واثرات آن


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | انشای حق رهن................................. | ۱۵ |
| مادۀ هشتم: | توافقنامۀ رهنی... ............................ | ۱۷ |
| مادۀ نهم: | ترتیب زمانی حق رهن .......................... | ۱۸ |
| مادۀ دهم: | حقوق ووجایب رهن گیرندۀ حایز مرهونه....... | ۱۹ |

مادۀ یازدهم: حق درخواست معلومات ...................... ۲۰

## فصل سوم

## اثرات رهن براشخاص ثالث

مادۀ دوازدهم: تکمیل رهن.................................... ۲۱
مادۀ سیزدهم: تکمیل مؤقت واسترداد مرهونه به رهن دهنده ..۲۲
مادۀ چهاردهم: اثرات ادامه وماحصل مرهونه................. ۲۴
مادۀ پانزدهم: تعیین تقدم میان حقوق رهنی.................. ۲۶
مادۀ شانزدهم: تقدم برحقوق رهن تکمیل ناشده............... ۲۹
مادۀ هفدهم : تقدم حق رهن بر قروض آینده................... ۳۰
مادۀ هجدهم : حقوق مشتری ومستأجر مرهونه................. ۳۱
مادۀ نزدهم : حق تقدم طلبات تدارک کننده.. ................ ۳۴
مادۀ بیستم: حق تقدم میان حقوق رهنی در اموال غیرمنقول...۳۴
مادۀ بیست ویکم: حق تقدم رهنی میان اموال الحاق شده با اموال منقول.......................................... ۳۶
مادۀ بیست ودوم: حق تقدم رهنی در اجناس مختلط............... ۳۷
مادۀ بیست وسوم: حق تقدم رهنی در اسناد بهادار وسایر اقلام....... ۳۹
مادۀ بیست وچهارم: توافقنامۀ تبعیت.................................. ۴۱

## فصل چهارم
## انتقالات

مادۀ بیست وپنجم : انتقال مسئولیت رهن دهنده ومدیون............. .۴۲
مادۀ بیست وششم: انتقال حق رهن گیرنده......... .................۴۳
مادۀ بیست و هفتم: حقوق منتقل الیه.................................۴۳
مادۀ بیست و هشتم: وجایب مدیون حساب نسیه.......................۴۵

## فصل پنجم
## آثار عدم تأدیه یا عدم اجراء

مادۀ بیست و نهم: اجراآت عدم تأدیۀ دین یا عدم اجرای التزامات...۴۷
مادۀ سی ام: تحصیل حسابات نسیه واسناد بهادار.............۴۸
مادۀ سی ویکم: تنفیذ درصورت عدم تأدیۀ دین یا عدم اجرای التزامات ........................................۴۹
مادۀ سی ودوم : واگذاری مرهونه.................................۵۰
مادۀ سی وسوم: طرز واگذاری واثرات آن ......................۵۲
مادۀ سی وچهارم : تحت تأمین قراردادن و واگذاری مرهونه در محل آن .....................................۵۳
مادۀ سی وپنجم : اطلاعیه واگذاری ..............................۵۵
مادۀ سی وششم : عدم لزوم اطلاعیه...........................۵۷
مادۀ سی وهفتم: گزارش بعد از واگذاری .......................۵۸

مادۀ سی وهشتم : اطلاعیه تصرف مرهونه..........................۵۸
مادۀ سی ونهم : حصول مجدد مرهونه توسط رهن دهنده.........۶۰
مادۀ چهلم : حمایت مشتری مرهونه...........................۶۱
مادۀ چهل ویکم : موارد عدم تطبیق احکام این فصل ..............۶۲

## فصل ششم

## نقش محکمه وحق حمایت

مادۀ چهل ودوم : تصرف یا واگذاری به محکمه.................۶۲

## فصل هفتم

## احکام متفرقه

مادۀ چهل وسوم : محدودیت تطبیق قانون.........................۶۵
مادۀ چهل وچهارم : ثبت حقوق رهنی..............................۶۶
مادۀ چهل وپنجم : حل وفصل منازعات............................۶۷
مادۀ چهل وششم : تطبیق قانون ....................................۶۷
مادۀ چهل وهفتم : رهن اموال وارداتی..............................۶۹
مادۀ چهل وهشتم : وضع طرزالعمل ها.............................۶۹
مادۀ چهل ونهم : ارجحیت احکام...................................۷۰
مادۀ پنجاهم : انفاذ.................................................۷۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# په بانکي معاملوکې د منقولو مالـــونو د رهـــن قـــانـــون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع اړتيا**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون په بانکي معاملو کـــې د منقولومالونو په رهن پورې داړوندو چارو د تنظيم او د معاملې داړخونو د حقوقو او وجيبو د ټاکلو په منظور، وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه يمه ماده:**

ددغه قانون موخې عبارت دي له :

۱- د منقولو مالونو د رهن له لارې د دين او قرار دادونو تضمين.

۲- د منقولو مالونو د رهن له لارې

# قانون رهن اموال منقول درمـــعامـــلات بانکی

## فصل اول

## احکام عمومی

**ضرورت وضع**

**مادهٔ اول:**

این قانون به منظـــورتنظیم امـــور مربوط به رهن امـــوا ل منقـــول در معاملات بانکی و تعیین حقوق و وجایـــب طـــرفین معاملـــه، وضع گردیده است.

**هدف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارتند از :

۱- تضمین دیـــن و قراردادهـــا از طریق رهن اموال منقول.

۲- مساعد ساختن زمینه دسترسی

د بانکي معاملو ور اعتباراتوته د لاس رسی د زمینې برابرول.

۳-د بانکي معاملې د ذیدخلو اشخاصو ترمنځ د متقابل باور تأمینول.

۴- د سوداګرۍ او اعتباراتو پراختیا، د پانګونې جلبول او د ملي اقتصاد وده.

## اصطلاحګاني

درېیمه ماده:

لاندې اصطلاحګاني پدې قانون کې دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- دین: د پیسوهغه مبلغ دی چې د نسیه حساب یا د وجوهو د تمویل له امله درهني توافقلیک سره سم د مدیون پرغاړه (ذمه) ایښودل کېږي. په دین کې تمویل، جریمه، د زیان جبران او نورې اړوندې ورکړې (بدهۍ) هم شاملېږي.

۲- مدیون: هغه شخص دی چې دین یې پر ذمه وي.

۳- داین : هغه شخص دی چې د دافغانستان بانک د قانون یا د

به اعتبارات قابل معاملهٔ بانکی از طریق رهن اموال منقول.

۳- تأمین اعتماد متقابل میان اشخاص ذیدخل معاملهٔ بانکی.

۴- توسعهٔ تجارت و اعتبارات، جلب سرمایه گذاری و رشد اقتصاد ملی.

## اصطلاحات

مادهٔ سوم:

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید :

۱- دین: مبلغ پولی است که بنابر حساب نسیه یا تمویل وجوه بر طبق توافقنامه رهنی بر ذمه مدیون (رهن دهنده) قرار می گیرد. دین شامل تمویل، جریمه، جبران خساره و سایر بدهی های مربوط نیز بوده می تواند.

۲- مدیون: شخصی است که دین بر ذمه او باشد.

۳- داین : شخصی است که مطابق احکام قانون دافغانستان بانک یا

بانکدارۍ د قانون دحکمونو مطابق، د هېواد په دننه یا بهر کې د بانکدارۍ په چاروبوخت او د بل شخص پر ذمه مالي حقوق یا د پرځای کولو وړ وجیبه ولري.

۴- محکوم له داین: هغه شخص دی چې د مرهونې د تر تأمین لاندې راوستلو یا حبس لپاره یې د محکمې حکم ترلاسه کړی وي.

۵- رهني توافقلیک: هغه مقاوله ده چې د یوې یا څو معاملو په هکله د رهن ورکوونکي او رهن اخیستونکي ترمنځ عقد کېږي.

۶- رهن ورکوونکی : هغه شخص دی چې د مرهونې مالک وي او معمولاَ د رهن تابع دین، د هغه پر ذمه وي، که چېرې د مرهونې مالک او مدیون مختلف اشخاص وي، پدې صورت کې رهن ورکوونکی هغه شخص دی چې د مرهونې مالک وي او مدیون هغه شخص دی چې دین یې پر ذمه وي.

قانون بانکداری در داخل یا خارج کشور به امور بانکداری اشتغال و حقوق مالی یا وجیبهٔ قابل ایفا بر ذمه شخص دیگری داشته باشد.

۴- داین محکوم له: شخصی است که حکم محکمه را در رابطه به حقوق رهنی به نفع خود حاصل نموده باشد .

۵- توافقنامهٔ رهنی: مقاوله ای است که میان رهن دهنده و رهن گیرنده در مورد یک یا چند معامله، منعقد می شود.

٦- رهن دهنده : شخصی است که مالک مرهونه بوده ومعمولاً دین تابع رهن بر ذمت وی می باشد. هرگاه مالک مرهونه و مدیون اشخاص مختلف باشند ، دراین صورت رهن دهنده شخصی است که مالک مرهونه بوده ومدیون شخصی است که دین برذمه وی باشد.

۷- رهن اخیستونکی: هغه داین دی چې د دین د تضمین په منظور د رهن عقد، د هغه په ګټه لیکل (انشأ) کېږي.

۸- د رهن حق: په حا ل یا راتلونکي کې په منقولو مالونو کې عین حق دی چې د هغه په واسطه یو یا زیات دیون چې د رهني توافقلیک له عقد د مخه یا وروسته منځته راشي، تضمینېږي.

۹- مرهونه: هغه منقول مال دی د دین د تضمین په منظور، رهن ته اېښودل کېږي او کیدلی شي د هېواد په دننه یا بهر کې موقعیت ولري یا د منقول مال ماحصل وي.

۱۰- د مرهونې ماحصل : پیسې یا د منقول مال خاص ډول دی چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د منقول مال له رهن نه لاسته راځي او د ماحصل وروستي تولید او د مرهونې د زیان یا ضایع کېدو په وړاندې د بیمې د بدل ورکړه هم پکې شامله ده.

۷- رهن گیرنده : شخصی است که عقد رهن به منظور تضمین دین به نفع وی، انشأ می گردد .

۸- حق رهن : حق عینی در اموال منقول در حال یا آینده می باشد که ذریعه آن یک یا بیشتر دیونی که قبل یا بعد ازعقد توافقنامۀ رهنی به میان آید، تضمین می شود.

۹- مرهونه: مال منقولی است که به منظور تضمین دین به رهن گذاشته شده و می تواند در داخل یا خارج کشور موقعیت داشته یا ماحصل مال منقول باشد.

۱۰- ماحصل مرهونه : پول یا نوع خاص مال منقول است که به شکل مستقیم یا غیرمستقیم از واگذاری مرهونه بدست آمده وشامل تولید بعدی، ماحصل وپرداخت بدل بیمه در مقابل خساره یا ضیاع مرهونه نیز می باشد.

۱۱- مالونه: هغه متصرفات یا شیان دي چې د تملک وړ دي او منقول او غیر منقول ما ل پکې شامل دی.

۱۲- منقول مال: هغه مال دی چې لېږدېدل یې له تجزیې او د ماهیت او د شکل له بدلون پرته شونی وي او عیني (جنسونه) اوغیرعیني (دملکیت سندونه، بها لرونکي سندونه، د پور (نسیه)حسابونه، د چاپ اوخپرولوحق،سوداګریزې نښې، حق الاختراع) پکې شامل دي.

۱۳- غیر منقول مال: هغه مال دی چې لېږدېدل یې له تجزیې او د شکل له بدلون پرته شونی نه وي او استوګنځی، ودانۍ، ځمکه او ثابته اثاثیه پکې شامل دي.

۱۴- جنس: عیني منقول ما ل دی چې په بل منقول یا غیر منقول ما ل پورې ملحق شوي مالونه پکې شامل دي.

۱۵-لګښتي (مصرفی)توکي: هغه مال دی چې د شخصي، کورنۍ یا

۱۱- اموال: متصرفات یا اشیائی است که قابل تملک بوده ومشتمل بر مال منقول وغیرمنقول می باشد.

۱۲- مال منقول : مالی است که انتقال آن بدون تجزیه وتغییر ماهیت و شکل ، ممکن بوده وشامل عینی (اجناس) وغیرعینی ( اسناد ملکیت، اسناد بهادار، حسابات نسیه، حق طبع ونشر، علامات تجارتی، حق الاختراع ) می باشد.

۱۳- مال غیر منقول : مالی است که انتقا ل آن بدون تجزیه و تغییرشکل ممکن نبوده وشامل مسکن، تعمیر، زمین و اثاثیۀ ثابت می باشد.

۱۴- جنس: مال منقول عینی است که شامل اموا ل ملحق شده به ما ل منقول یا غیرمنقول دیگرمی باشد .

۱۵- مواد مصرفی: مالی است که جهت استفاده شخصی،

کورد استفادې لپاره کارول کېږي.

۱٦– موجودي جنس: هغه مال دی چې د پلورنې یا اجارې په منظور د شخص لخوا ساتل کېږي او هم هغه مال پکې شامل دی چې د خدمتونو د قرار داد سره سم، برابرېږي.

۱۷– تجهیزاتي جنس: هغه مال دی چې د چارو د پرمخ بیولو لپاره د آسانتیاوو د برابرولو په منظور، له هغو څخه استفاده کېږي.

۱۸– ګډ (مختلط) جنس: هغه مال دی چې له نورو مالونو سره په فزیکي ډول پداسې توګه ګډوي چې پېژندل (هویت) یې په محصول کې د تفکیک وړ نه وي.

۱۹– د نسیه (پور) حساب: د هغو پیسو دین دی چې د معاملې وړسند پر بنسټ لیکل شوی نه وي خو مدیون د هغو په ورکړه مکلف وي.

۲۰– د نسیه حساب مدیون: هغه شخص دی چې د پولي دین له امله، د بل شخص مدیون وي یا په

خانواده یا منزل به کار می رود.

۱٦– جنس موجودی: مالی است که به منظور فروش یا اجاره توسط شخص نگهداری شده ونیز شامل مالی میباشد که طبق قرارداد خدمات ، تهیه می گردد .

۱۷– جنس تجهیزاتی: مالی است که به منظور فراهم آوری تسهیلات جهت پیشبرد امور از آن استفاده می شود .

۱۸– جنس مختلط: مالی است که با سایر اموا ل به صورت فزیکی طوری مخلوط بوده که هویت آن در محصول غیر قابل تفکیک باشد .

۱۹– حساب نسیه: دین پولی است که به اساس سند قابل معامله انشأ نگردیده اما مدیون مکلف به تأدیه آن می باشد .

۲۰– مدیون حساب نسیه: شخصی است که از اثر دین پولی، مدیون شخص دیگری بوده یا درآینده

راتلونکي کې مديون ګرځي.

۲۱- منتقل اليه : هغه شخص دی چې د مديون د غاړې (ذمې) نسيه يا رهني توافقليک د لېږدوونکي په واسطه هغه ته احاله کېږي.

۲۲- لېږدوونکی: هغه شخص دی چې د رهني توافقليک يا نسيه حساب پربنسټ پيسې دبل په ذمه ولري او هغه منتقل اليه احاله کوي.

۲۳- خبرتيا: د هغې موضوع لرونکي ليکلي معلومات دي چې د نظر وړ شخص د مرکزي دفتر او د اوسېدنې يا د فعاليت د ځای په آدرس استول شوي او له رسېدو څخه يې ډاډ ترلاسه شوی وي.

۲۴- دثبت دفتر: هغه اداره ده چې پر منقولو مالونو باندې رهني حقوق او د هغې پورې اړوند سندونه ثبت اوساتي.

۲۵- د ثبت خبرتيا: هغه پاڼه (فورم) دی چې د رهني حقوقو د ثبت د کړنلارې مطابق برابره او ترتيبېږي.

مديون قرار می گيرد.

۲۱- منتقل اليه : شخصی است که حساب نسيه يا توافقنامۀ رهنی توسط انتقال دهنده به وی احاله می گردد.

۲۲-انتقال دهنده : شخصی است که پولی را بر اساس توافقنامۀ رهنی يا حساب نسيه بر ذمۀ ديگری داشته و آنرا به منتقل اليه احاله می نمايد .

۲۳- اطلاعيه : معلومات کتبی حاوی موضوع است که به آدرس دفتر مرکزی ، محل اقامت يا فعاليت شخص مورد نظر ارسال و از وصول آن اطمينان حاصل شده باشد.

۲۴- دفتر ثبت: اداره ای است که حقوق رهنی بر اموا ل منقول و اسناد مربوط به آن را ثبت و حفظ می نمايد.

۲۵- اطلاعيۀ ثبت: ورقه ای (فورم) است که مطابق طرزالعمل ثبت حقوق رهنی تهيه و ترتيب می گردد.

۲۶- د پیرودنې دپیسو رهن : رهن پر هغو جنسونو دی چې د پېرودنې د ټولې یا یوې برخې د بیې د تضمین په منظور، د پلورونکي په واسطه، تصرف یا ساتل کېږي او مشتمل دی پر :

- د هغه شخص د رهن حق ( له بایع پرته ) چې د وجوهو د تمویل په واسطه یو ارزښت برابروي، څو رهن ورکوونکی وکولی شي د مرهونې ملکیت لاسته راوړي.

- پدې قانون کې په درج شوو معاملو کې د بایع، مؤجر یا د مالونو د تسلیموونکي حق.

- رهن اخیستونکي ته په ورکړې وړ تمویلي وجوهو پورې اړوند لګښتونه.

۲۷- نه ورکړه: په رهني توافقلیک کې په درج شوي ټاکلي وخت (موعد)، د دین یا یې د قسطونو نه ورکول دي .

۲۸- نه اجرا : په رهني توافقلیک

۲۶- رهن پول خرید : رهن بر اجناسی است که توسط فروشنده به منظور تضمین تمام یا قسمتی از قیمت خرید، تصرف یا نگهداری می گردد و مشتمل است بر :

- حق رهن شخص (به غیر از بایع) که ارزشی را توسط تمویل وجوه فراهم نموده تا رهن دهنده بتواند ملکیت مرهونه را بدست آورد.

- حق بایع ، مؤجر یا تسلیم دهندهٔ اموال در معاملات مندرج این قانون .

- مصارف مربوط به وجوه تمویلی قابل پرداخت به رهن گیرنده.

۲۷- عدم تأدیه : عدم پرداخت دین یا اقساط آن درموعد معینهٔ مندرج توافقنامهٔ رهنی می باشد.

۲۸- عدم اجرا : عدم ایفای

کې په درج شوي ټاکلي وخت د التزاماتو نه ترسره کول دي .

۲۹- د مالکیت سند: هغه لیکلی سند دی چې د قانون د حکمونو مطابق ترتیب او پر منقولو مالونو باندې مالکیت یا دهغو د تصرف حق ثابت کړي.

۳۰- بهالرونکی سند : د معاملې وړ مالي سند دی .

۳۱- شخص : حقیقي یا حکمي شخص دی .

۳۲- تمویلي وجوه: عبارت دی له:

- هغه مرسته یا آسانتیا چې په ګټه او تاوان کې د ګډون، په بیه کې د زیاتوالي یا کموالي استخدام ، د پانګه ییزې مرستې په پېرودنې، اجارې، په ګډه توګه د بها د اجارې په ورکړې، جواز ورکونې، غوښتنو یا فیسونو، د اجناسو، حق الاختراع، ډیزاین، سوداګریزو نښو، د چاپ او خپرولو د حق، برات، حجت یا نورو سندونو په شمول د منقولو مالونو په پېرودنه کې د پلورونکي په واسطه د بیا

التزامات در موعد معینهٔ مندرج توافقنامهٔ رهنی می باشد.

۲۹- سند مالکیت : سند کتبی است که طبق احکام قانون ترتیب گردیده و مالکیت بر اموال منقول یا حق تصرف آنرا ثابت نماید.

۳۰- سند بهادار : سند مالی قابل معامله می باشد.

۳۱- شخص : شخص حقیقی یا حکمی میباشد.

۳۲- وجوه تمویلی: عبارت است از :

- مساعدت یا سهولتی که بر اساس اشتراک درنفع و ضرر، افزایش یا کاهش در قیمت، استخدام، خریداری، کمک سرمایه وی، اجاره، پرداخت اجاره بها به صورت مشترک، جوازدهی، مطالبات یا فیس ها، خرید و فروش اموال منقول بشمول اجناس،حق الاختراع، دیزاین، علایم تجارتی، حق طبع و نشر، برات، حجت، یا سایر اسناد باحق بازخرید یا بدون حق بازخرید

پېرودنې له حق سره يا د بيا پېرودنې له حق پرته دپلورونکي په واسطه او په مرابحه، مساومه، استثناء يا مضاربت کې د ګډون پر بنسټ برابره شوې وي.

– د اعتباري کارت يا د نسيې کارت پر بنسټ د داين او مديون تر منځ موافقه .

– ضمانت، لېتراف کرېډت يانورې هغه مالي ژمنې چې داين يې رهن ورکوونکي يا مديون ته برابروي.

– قرضه، وام (پور) اضافه برداشت، هغه برات چې تنزيل او پېرودل شوی وي، يا نورې هغه مالي ژمنې چې د داين په واسطه رهن ورکوونکي يا مديون ته برابرېږي.

۳۳– د رهن ورکوونکي موقعيت :

ـ د رهن ورکوونکی د سوداګرۍ اصلي مرکز دی، د هغه د نه موجوديت په صورت کې، د رهن ورکوونکي د مېشتېدو يا استوګنې ځای د اعتبار وړ دی.

توسط فروشنده و اشتراک در مرابحه ، مساومه ، استثناء ، يا مضاربت فراهم شده باشد.

– توافق بين داين و مديون براساس کارت اعتباری يا کارت نسيه.

– ضمانت، ليتراف کريدت يا ساير تعهدات مالی که داين برای رهن دهنده يا مديون فراهم می نمايد.

– قرضه، وام، اضافه برداشت، برات ايکه تنزيل و خريداری شده باشد يا ساير انواع تعهدات مالی که توسط داين برای رهن دهنده يا مديون فراهم می گردد .

۳۳– موقعيت رهن دهنده :

ـ مرکز اصلی تجارت رهن دهنده می باشد. درصورت عدم موجوديت آن، محل اقامت يا سکونت رهن دهنده مدار اعتبار می باشد.

_دشرکت موقعیت دهغهٔ دتأسیس ځای دی.

۳۴-د رهن تکمیل: د افلاس په صورت کې د درېیمو اشخاصو لکه مشتري، نور رهن اخیستونکي او ممثل د حقوقو په پرتله، په مرهونه باندې د رهن اخیستونکي د حقوقو دلوړوالي موندنه.

۳۵- دحبس حق : د مدیون پرمنقولو مالونو باندې غیرعمدي حق دی، چې د التزاماتو د تضمین د اجرا په موخه ورکړل شوی وي.

۳٦- د حبس حق درلودونکی: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی، چې پر منقولو مالونو باندې دحبس حق ولري.

۳۷- سند : د ملکیت سند یا د بار لیک رسید یا د گدام رسید دي، چې د ملکیت دتثبیت یا د اجناسو د لېږدولو یا ذخیرې لپاره صادر شوی وي.

_موقعیت شرکت محل تأسیس آن است.

۳۴- تکمیل رهن : برتری یافتن حقوق رهن گیرنده برمرهونه، نسبت به حقوق اشخاص ثالث از قبیل مشتری، رهن گیرندگان دیگر وممثل قانونی درصورت افلاس.

۳۵- حق حبس : حق غیرعمدی بر اموال منقول مدیون است که به منظور تضمین اجرای التزامات، داده شده باشد.

۳٦- دارنده حق حبس : شخص حقیقی یا حکمی است که حق حبس بر اموال منقول را داشته باشد.

۳۷- سند : سند ملکیت یا رسید بارنامه یا رسید گدام می باشد، که جهت تثبیت ملکیت یا انتقال یا ذخیره اجناس صادر شده باشد.

**پر معاملو باندې دقانون د تطبيق ساحه**

**څلورمه ماده :**

(۱) دغه قانون پر هغو معاملو باندې د تطبيق وړ دی چې پرمنقولو مالونو باندې د رهن د انشأ سبب کېږي.

(۲) د دې قانون حکمونه د لاندې رهني معاملو او موافقو په هکله هم تطبيقېږي:

۱- د تمويلي وجوهو د تدارک په اړه قرارداد.

۲- د مالونو د پلورنې په اړه قرارداد چې له مخې يې د پلورونکي د مبيعې د حبس حق، د پلورنې د بيې د ورکړې او نورو ژمنو د ترسره کېدو تر وخته پورې خوندي وي.

۳- د نسيه حساب د بيعې معاملې.

۴- د پلورنې په منظور د مالک (تحويلوونکي ) لخوا بل شخص (تحويل اخيستونکي) ته د ملکيت د لېږدونې يا منقولو مالونو د سپارلو معاملې.

**ساحۀ تطبيق قانون بر معاملات**

**مادۀ چهارم :**

(۱) اين قانون بر معاملاتی قابل تطبيق می باشد که سبب انشأ رهن بر اموال منقول می شود.

(۲) احکام اين قانون در مورد معاملات وتوافقات رهنی ذيل نيز تطبيق می گردد:

۱- قرارداد مبنی بر تدارک وجوه تمويلی .

۲- قرارداد مبنی بر فروش اموا ل که به تأسی از آن حق حبس مبيعۀ فروشنده تا زمان تاديۀ قيمت خريد و انجام ساير تعهدات محفوظ می باشد.

۳- معاملات بيع حساب نسيه.

۴- معاملات انتقا ل ملکيت يا تحويل اموا ل منقول از طرف مالک (تحويل دهنده) به شخص ديگر (تحويل گيرنده) به منظور فروش.

۵- د هغو مالونو اجاره چې موده (میعاد) یې له یوه کاله څخه زیاته وي.

(۳) که چیرې لګښتي توکې په رهني توافقلیک یا اړوندو توافقاتو کې درج وي، حقیقي شخص نه شي کولای په دې قانون کې د درج شوو حقوقو اوزیانونو له جبران،څخه تیر(منصرف) شي یا هغه محدود کړي. دغه تېرېدنه (انصراف) یا محدودیت پرمعامله باندې اغېزه نه شي اچولی یایې له اعتبار څخه نه کموي.

## پر اشخاصو باندې د قانون دتطبیق ساحه

پنځمه ماده :

(۱) هغه حکمونه چې پدې قانون کې د رهن اخیستونکي په باب اټکل شویدي، د لاندې اشخاصوپه هکله هم دتطبیق وړدي:

۱- هغه داین چې مدیون ته تمویلي وجوه برابروي او یاد شوی دین دمنقولو مالونو په وسیله تضمین شوی وي.

۵- اجارهٔ اموال که میعاد آن بیش از یکسال باشد.

(۳) هرگاه مواد مصرفی در توافقنامهٔ رهنی یا توافقات مربوط درج باشد، شخص حقیقی نمی تواند از حقوق و جبران خسارات مندرج این قانون منصرف شده یا آنرا محدود سازد. این انصراف یا محدودیت ، اثری برمعامله مرتب نه نموده یا ازاعتبار آن نمی کاهد .

## ساحهٔ تطبیق قانون بر اشخاص

مادهٔ پنجم :

(۱) احکامی که راجع به رهن گیرنده در این قانون پیش بینی گردیده است، در مورد اشخاص ذیل نیز قابل تطبیق میباشد:

۱- داینی که وجوه تمویلی را به مدیون فراهم می کند و دین مذکور ذریعهٔ اموال منقول تضمین شده باشد.

۲- د مالونو د بیعې په قرارداد کې درج شوی بایع چې له مخې یې پلورونکي ته د مبیعې د حبس حق خوندي وي.

۳- د نسیه حساب پیرودونکی (مشتری).

۴- په توافقلیک کې د درج شوو مالونو تحویلوونکی.

۵- هغه مؤجر چې د اړوندو مالونو د اجارې د قرارداد موده ئې له یوه کاله څخه زیاته وي.

(۲) هغه حکمونه چې پدې قانون کې د رهن ورکوونکي په باب اټکل شویدي د لاندې اشخاصو په هکله هم د تطبیق وړ دي:

۱- د مرهونې مالک چې له هغې څخه یې د تمویلي وجوهو د تضمین لپاره استفاده کړې وي.

۲- د مالونو د پلورلو په قرارداد کې درج شوی پیرودونکی چې له هغه سره سم یې بایع ته د مبیعې د حبس حق خوندي وي.

۳- د نسیه حساب بایع.

۲- بایع مندرج قرارداد بیع اموالی که به تأسی از آن حق حبس مبیعه به فروشنده محفوظ باشد.

۳- مشتری حساب نسیه .

۴- تحویل دهندهٔ اموال مندرج توافقنامه.

۵- مؤجر که میعاد قرارداد اجارهٔ اموال مربوط بیشتر از یک سال باشد .

(۲) احکامی که راجع به رهن دهنده در این قانون پیش بینی گردیده است درمورد اشخاص ذیل نیز قابل تطبیق می باشد:

۱- مالک مرهونه ای که از آن برای تضمین وجوه تمویلی استفاده نموده باشد.

۲- مشتری مندرج قرارداد فروش اموال که طبق آن حق حبس مبیعه به بایع محفوظ باشد.

۳- بایع حساب نسیه.

۴- په موافقه ليک کې د درج شوو مالونو تحويل اخيستونکی.

۵- هغه مستأجر چې د اړوندو مالونو د اجارې د قرارداد موده ئې له يوه کاله څخه زياته وي.

د رهن موارد

شپږمه ماده :

هغه التزامات، چې په رهن کې شامليدای شي، عبارت دي له :

۱- د پيسو يا په پيسو باندې د ارزښت د ټاکلو وړ التزامات.

۲- دين کولای شي دمالک په مرهونه يا نورو اشخاصو پورې اړوند وي.

## دوه يم فصل

## د رهن د حق ليکل (انشأ) او اثرات يې

د رهن د حق انشأ

اوومه ماده :

د رهن حق د لاندې شرايطو د موجوديت په صورت کې انشأ او د رهن

۴- تحويل گيرندهٔ اموال مندرج توافقنامه .

۵- مستأجری که ميعاد قرارداد اجارهٔ اموال مربوط، بيشتر از يک سال باشد.

موارد رهن

مادهٔ ششم :

التزاماتی که شامل رهن شده ميتوانند عبارتند از :

۱- التزامات پولی يا قابل تعيين ارزش به پول .

۲- دين می تواند مربوط به مالک مرهونه يا ساير اشخاص باشد.

## فصل دوم

## انشای حق رهن و اثرات آن

انشای حق رهن

مادهٔ هفتم :

حق رهن درصورت موجوديت شرايط آتی انشأ وبرعليه رهن دهنده

ورکوونکي پر علیه د تنفیذ وړ دی:

۱- په هغه صورت کې چې اړخونه، رهني توافقلیک چې د دین او مرهونې د توضیح لرونکی وي، لاسلیک کړي.

۲- په هغه صورت کې چې رهن ورکوونکی یو له لاندې اشخاصو څخه وي:

- د مرهونې مالک یا واکمن شخص.

- د بیعې په قرارداد کې درج شوی پېرودونکی چې د مرهونې د ملکیت حق ولري.

- د نسیه حساب بایع.

- تحویل اخیستونکی.

- د مالونو په قرارداد کې درج شوی مستأجر چې موده (میعاد) یې له یوه کاله څخه زیات وي.

۳- په هغه صورت کې چې رهن اخیستونکی د عقد شوي قرارداد مطابق مکلف شوی وي چې تمویلي وجوه رهن ورکوونکي یا بل شخص

قابل تنفیذ می باشد :

۱- درصورتیکه طرفین، توافقنامهٔ رهنی را که حاوی توضیح دین ومرهونه باشد، امضأ نمایند .

۲- درصورتیکه رهن دهنده یکی از اشخاص ذیل باشد:

- مالک مرهونه یا شخص ذیصلاح.

- مشتری مندرج قرارداد بیع که حق ملکیت مرهونه را داشته باشد.

- بایع حساب نسیه .

- تحویل گیرنده .

- مستأجر مندرج در قرارداد اجارهٔ اموال که میعاد آن بیشتر از یکسال باشد.

۳- در صورتی که رهن گیرنده طبق قرارداد منعقده مکلف گردیده باشد که وجوه تمویلی را به رهن دهنده یا شخص دیگری فراهم سازد،

ته برابر کړي يا د رهن اخيستونکي په ګټه يا د هغه د غوښتنې پر بنسټ نور اقدامات سرته ورسوي يا دا چې رهن اخيستونکی د رهني توافقليک له عقد دمخه، تمويلي وجوه رهن ورکوونکي ته يا دهغه د غوښتنې له مخې برابر کړي.

## رهني توافقليک

**اتمه ماده :**

(۱) په رهني توافقليک کې يو رهن يا زيات شامل وي او په يوه يا څو اثباتيه سندونو ترتيبيدی شي.

(۲) مرهونه په رهني توافقليک کې په مشخصه توګه توضيح کېږي او کيدی شي هغه ډول ډول منقول مالونه چې په راتلونکي کې د رهن ورکوونکي په واسطه تحصيلېږي پکې شامل شي.

(۳) د دين اندازه او د ورکړې نېټه يې په رهني توافقليک کې په څرګنده توګه مشخصېږي .

يا اقدامات ديگری را به نفع رهن دهنده يا به اساس درخواست او انجام دهد يا اينکه رهن گيرنده قبل از عقد توافقنامه رهنی، وجوه تمويلی را به رهن دهنده يا به اساس درخواست او فراهم نمايد.

## توافقنامۀ رهنی

**مادۀ هشتم :**

(۱) توافقنامۀ رهنی شامل يک رهن يا بيشتر از آن بوده و با يک يا چند سند اثباتيه ترتيب شده می تواند.

(۲) مرهونه در توافقنامۀ رهنی به صورت مشخص توضيح می گردد و می تواند شامل انواع اموال منقول ايکه در آينده توسط رهن دهنده تحصيل می شود، گردد.

(۳) اندازۀ دين و تاريخ پرداخت آن در توافقنامۀ رهنی به صورت واضح مشخص می شود.

## د رهن د حق زماني ترتیب

**نهمه ماده :**

(۱) پر مرهونه باندې درهن حق هغه وخت مرتببږي، چې رهني توافقلیک لاسلیک او مرهونه د رهن ورکوونکې لخوا تملک شوی وي.

(۲) پر منقوله مرهونه باندې د رهن حکمونه هغه وخت مرتببږي چې رهن ورکوونکی حیازت (مالکیت) لاسته راوړي او د لاندې اشخاصو له جملې څخه وي:

۱- پېرودونکی، پدې شرط چې د بایع د ملکیت حق خوندي وي.

۲- تحویل اخیستونکی.

۳- هغه مستأجر چې د اجارې موده یې له یوه کاله څخه زیاته وي.

(۳)که چېرې رهن ورکوونکی ، د نسیه حساب لېږدوونکی وي ، پدې صورت کې د رهن حق هغه وخت مرتببږي چې نسیه حساب منځته راشي.

## ترتیب زمانی حق رهن

**مادهٔ نهم :**

(۱) حق رهن برمرهونه زمانی مرتب میگردد که توافقنامه رهنی امضأ و مرهونه از طرف رهن دهنده تملک گردیده باشد.

(۲) احکام رهن برمرهونهٔ منقول زمانی مرتب می گردد که رهن دهنده حیازت را بدست آورده وازجملهٔ اشخاص ذیل باشد :

۱- مشتری ، مشروط براینکه حق ملکیت بایع محفوظ باشد .

۲- تحویل گیرنده.

۳- مستأجر ایکه میعاد اجارهٔ آن بیشتر از یکسال باشد.

(۳) هرگاه رهن دهنده، انتقال دهندهٔ حساب نسیه باشد ، در این صورت حق رهن زمانی مرتب می گردد که حساب نسیه ایجاد شود.

## د مرهونې لرونکي رهن اخيستونکي حقوق او وجيبې

لسمه ماده:

(۱) رهن اخيستونکی مکلف دی، ترحيازت لاندې مرهونه په لازم احتياط وساتي.

(۲) که چېرې رهن اخيستونکي د مرهونې د حفاظت او ساتنې لپاره په رهن ورکوونکي پورې اړوند لازم لګښتونه او قانوني التزامات سرته رسولي وي، دغه لګښتونه او التزامات پر دغه ډول مالونو د مرتب شوي رهن يو جز وي.

(۳) رهن اخيستونکی کولی شي د مرهونې په ارزښت کې زياتوالی يا ورڅخه تر لاسه شوې ګټه د اضافي مرهونې په توګه له ځان سره وساتي، خو داچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

## حقوق و وجايب رهن گيرندۀ حايز مرهونه

مادۀ دهم :

(۱) رهن گيرنده مکلف است، مرهونۀ تحت حيازت را با احتياط لازم حفاظت نمايد.

(۲) هرگاه رهن گيرنده مصارف لازم والتزامات قانونی مربوط رهن دهنده راجهت حفاظت ونگهداری مرهونه انجام داده باشد، اين مصارف و التزامات جزء از رهن مرتب شده بر چنين اموال ميباشد.

(۳) رهن گيرنده می تواند افزايش در ارزش يا مفاد حاصله از مرهونه را منحيث مرهونۀ اضافی نزد خود نگهدارد، مگر اينکه طرفين طور ديگری موافقه نموده باشند.

د معلوماتو د غوښتنې حق

یوولسمه ماده :

(۱) رهن اخیستونکی، محکوم لــه داین یا بل رهن اخیستونکی چې پر مرهونه باندې یې د رهن حق ترلاسه کړی وي ، کولی شي لاندې معلومــات له رهن اخیستونکی څخه وغواړي :

۱- دمرهونې د فهرست تائید یــا تصحیح.

۲- د هغه صورت حساب تائید یا تصحیح چې د هغه په عقیده تر ټاکلې نېټې پورې د نه ورکړل شوي دین د ټول مبلغ، لرونکی وي.

۳-د رهنــي توافقلیــک د نقــل تسلیمول.

(۲) رهن اخیستونکی مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کــې درج شوي ټکي، د غوښتنلیک له تر لاسه کولو (۱۴) ورځې وروسته، عملي کړي، پرته لدې دارونده کړنلارې مطابق له هغه سره چلند کېږي.

حق درخواست معلومات

مادهٔ یازدهم :

(۱) رهن دهنده ، داین محکوم له یا رهن گیرندهٔ دیگرایکه حق رهن بر مرهونه را حایز گردیده باشــند می تواننــد معلومــات ذیــل را از رهن گیرنده درخواست نمایند :

۱- تائید یا تــصحیح فهرســت مرهونه .

۲- تائید یا تــصحیح صــورت حسابی را که به عقیده وی حاوی مبلغ مجموعی دین پرداخت ناشده الی تاریخ مشخص باشد.

۳- تــسلیمی نقــل توافقنامــهٔ رهنی .

(۲) رهن گیرنده مکلف اســت ، نکات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را درخــلا ل (۱۴) روز بعــد از دریافت درخواست، عملی نماید، در غیر آن مطابق طرزالعمل مربوط با وی برخورد صورت می گیرد.

## درېيم فصل

## پر ثالثو اشخاصو باندې د رهن اغېزې

### د رهن بشپړول

**دوولسمه ماده :**

(۱) رهن هغه وخت بشپړېږي چې ددې قانون په (۷) ماده کې د درج شوي حکم مطابق، پر مرهونه باندې د رهن حق انشأ او یو له لاندې مواردو څخه په هغې کې پلی شوی وي:

۱- د دې قانون د حکمونو مطابق د رهن د حق ثبتېدل.

۲- له توافق لیک سره سم د رهن اخیستونکي یا د هغه د استازي په واسطه (له رهن اخیستونکي پرته) د مرهونې حیازت .

۳- ددې قانون د حکمونو له صراحت سره سم، د رهن د حق بشپړېدل.

(۲) که چېرې د دغې مادې د(۱) فقرې د مندرجو مواردو سره سم ترتیب شوی وي اوله مقتضي

## فصل سوم

## اثرات رهن بر اشخاص ثالث

### تکمیل رهن

**مادۀ دوازدهم :**

(۱) رهن زمانی تکمیل میگردد که طبق حکم مندرج مادۀ (هفتم) این قانون حق رهن بر مرهونه انشأ و یکی از موارد ذیل در آن تحقق یافته باشد :

۱- ثبت حق رهن طبق احکام این قانون.

۲- حیازت مرهونه توسط رهن گیرنده یا نمایندۀ وی (به غیر از رهن دهنده) طبق توافقنامۀ رهنی.

۳- تکمیل حق رهن طبق صراحت احکام این قانون .

(۲) هرگاه رهن طبق یکی از موارد مندرج فقره (۱) این ماده تکمیل شده و بدون منقضی شدن تکمیل آن توسط یکی از شیوه

کېدوپرته يې تکمیل ددغې مادې د(۱) فقرې دنورو لارو په واسطه مجدداً تکمیل شي، نوموړی رهن په دایمي توګه بشپړګڼل کېږي.

(۳) که چېرې رهن د داسې مال په هکله انشأ شي چې د مستودع په واک کې وي، پدې صورت کې مستودع مکلف دی، د مالکیت سند د رهن اخیستونکي په نوم صادر یاله رهن اخیستونکي څخه په استازیتوب د مال په ساتلو موافقه وکړي.

(۴) پرمرهونه مال باندې دحبس حق هغه وخت تکمیلېږي، چې په دغه قانون کې له درج شووحکمونو سره سم ثبت شي.

## لنډ مهالې(مؤقته) بشپړتیا یا رهن ورکوونکي ته دمرهونې مستردېدل

**دیارلسمه ماده :**

(۱) د سوداګریز یا بهالرونکي سند رهن چې د رهن اخیستونکي یایې د استازي په حیازت بشپړ شوی وي، له دې وروسته چې نوموړی سند د

های دیگر مندرج فقره (۱) این ماده مجدداً تکمیل گردد، رهن متذکره به طور دایمی تکمیل پنداشته می شود.

(۳) هر گاه رهن در مورد مالی انشأ گردد که در حیازت مستودع باشد ، دراین صورت مستودع مکلف است، سند مالکیت را بنام رهن گیرنده صادر یا به نگهداری اموا ل به نمایندگی از رهن گیرنده موافقه نماید.

(۴) حق حبس برما ل مرهونه زمانی تکمیل می شود که طبق احکام مندرج این قانون به ثبت برسد.

## تکمیل مؤقت و استرداد مرهونه به رهن دهنده

**مادهٔ سیزدهم :**

(۱) رهن سند تجارتی یا سند بهاداری که با حیازت رهن گیرنده یا نماینده او تکمیل شده باشد ، بعد از اینکه سند متذکره به

پلورنې، تبادلې، ورانــدې کولــو، تحصیل، ثبت یا لېږد لپاره د رهـــن ورکوونکي په واک کې ورکـــول کېږي، پرته له دې چې ثبت شي، د (۲۰) ورځو لپاره بشپړ ګڼل کېږي.

(۲) د هغو مالو رهن چې یوه لــه لاندې لارو سره بشپړ شـــوی وي، وروسته له دې چې د پلورنې، تبادلې، معاملې یا د پلورنې یا تبادلې د نورو مقدماتي اقداماتو په منظور د رهـــن ورکوونکي په واک کـــې ورکـــول کېږي، د (۲۰) ورځو لپاره پرته له دې چې ثبت شي، بشپړ ګڼل کېږي:

۱- پرمـــالونو بانـــدې درهـــن اخیستونکي حیازت.

۲- د رهن اخیستونکي په نـــوم د مالکیت د سند صادرېدل .

۳- د هغه شخص لاسته راوستل چې له رهن اخیـــستونکي څخـــه پـــه استازیتوب یې د مالونو په ســـاتلو موافقه کړې وي .

(۳) ددغې مادې په (۲) فقره کې د

منظـــور فـــروش، تبادلـــه، ارائه، تحصیل، ثبت یا انتقا ل در اختیار رهن دهنده قرار می گیرد ، برای مدت (۲۰) روز بدون اینکه ثبت گردد، تکمیل پنداشته میشود.

(۲) رهن اموال ایکه به یکـــی از روشهای ذیل تکمیل شده باشـــد، بعد ازآنکه به منظور فروش، تبادله، معامله یا سایر اقدامات مقـــدماتی فروش یا تبادله دراختیار رهن دهنده قرار می گیرد، برای مدت (۲۰) روز بدون آنکـــه ثبـــت گـــردد، تکمیل پنداشته میشود:

۱- حیـــازت رهـــن گیرنـــده بر اموال.

۲- صدور سند مالکیت بنام رهن گیرنده.

۳- حایزشدن شخصی کـــه بـــه حفاظت امـــوا ل بـــه نماینـــدگی از رهـــن گیرنـــده موافقـــه نموده باشد.

(۳) بعد از سپری شدن میعاد مندرج

درج شوې مودې له تېرېدووروسته، درهن حق له بشپړیدو پاتې کېږي،خودا چې درهن اخیستونکی د رهن حق په دې قانون کې د درج شوو تگلارو بیا تثبیت کړي.

(۴) پېرودونکی یا هغه مستأجر چې مرهونه پدې ماده کې درج د(۲۰) ورځو مودې په ترڅ کې پېري یا يې په اجاره نیسي، له رهن څخه بري الذمه گڼل کیږي، پدې شرط چې د پیرودنې یا اجارې په وخت کې د رهن له حق څخه خبر نه وي .

## دمرهونې د دوام او ماحصل اغېزې

خوارلسمه ماده :

(۱) که چېرې د نسيې حساب د رهن د حق تابع وي، پدې صورت کې د نوموړي رهن اړخونه دنسیه حساب د ضامن پرعلیه، د یو شان حقوقو لرونکي دي .

(۲) پر مرهونه باندې د رهن حق له پرېښودو (واگذارۍ) وروسته

فقرهٔ (۲) این ماده ، حق رهن از تکمیل باز می ماند، مگر اینکه رهن گیرنده حق رهن را به یکی از روش های مندرج این قانون، مجدداً تثبیت نماید .

(۴) مشتری یا مستأجری که مرهونه را در خلال مدت (۲۰) روز مندرج این ماده خریداری یا به اجاره میگیرد ، از رهن بری الذمه شناخته می شود ، مشروط بر اینکه در زمان خریداری یا اجاره ازحق رهن آگاهی نداشته باشد.

## اثرات ادامه وماحصل مرهونه

مادهٔ چهاردهم :

(۱) هرگاه حساب نسیه تابع حق رهن باشد ، دراین صورت طرفین رهن مذکور برعلیه ضامن حساب نسیه، دارای حقوق یکسان می باشند .

(۲) حق رهن بالای مرهونه بعد از واگذاری نیز ادامه می یابد،

هم دوام مومي خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي. پلورنه، اجاره، جواز او تبادله په پرېښودنه کې شامل دي، خو داچې رهن اخیستونکی هغه له رهن څخه خلاص (مبري) کړي.

(۳) دمرهونې له پرېښودو وروسته، رهن دهغې پرماحصل (ترلاسه شوو عوایدو) باندې مرتبېږي. دمرهونې په ماحصل کې، د پیسو، تثبیت وړ نورو مالونو او د هغې بیمې بدل شامل دي چې د مرهونې د زیان یا ضایع کیدو له امله ورکول کېږي.

(۴) د مرهونې پر ماحصل باندې د رهن د حق بشپړېدل او مرتبه (مرتب کېدل)، پرنوموړي اصل مال باندې د رهن د حق په بشپړېدو او مرتبې سره، یو شان دي، پدې شرط چې:

۱–د مرهونې پر اصل باندې د رهني حق د ثبت په متن کې، د هغې د ماحصل شرحه لیکل (ځای) شوې وي .

۲– د مرهونې ماحصل د مرهونې له

مگر این که دراین قانون طور دیگری پیشبینی شده باشد. واگذاری شامل فروش، اجاره، جواز و تبادله می باشد، مگر اینکه رهن گیرنده آن را مبری از رهن نماید.

(۳) بعد از واگذاری مرهونه ، رهن بر ماحصل آن (عواید حاصله)، مرتب می گردد. ماحصل مرهونه شامل دریافت پول، سایر اموال قابل تثبیت و بدل بیمه ای می باشد که به اثر خساره یا ضیاع مرهونه، پرداخته می شود.

(۴) تکمیل ومرتبهٔ حق رهن بر ماحصل مرهونه با تکمیل و مرتبه حق رهن بر اصل مال مذکور یکسان می باشد، مشروط بر اینکه:

۱– در متن ثبت حق رهنی بر اصل مرهونه، شرح ماحصل آن گنجانیده شده باشد .

۲– ماحصل مرهونه، همنوع با اصل

اصل سره همنوع وي .

۳- دمرهونې ماحصل پــه مــالي مؤسسو کې د پیسو، چک او سپارنې په ډول وي .

**درهني حقوقو ترمنځ دلومړیتوب ټاکل**

**پنځلسمه ماده :**

(۱) رهن ورکوونکی کولی شـــي په عین مرهونه کې له یوه رهني حق څخه زیاتوته قایل شي.

(۲) د لومړیتوب حق په لاندې ترتیب سره ټاکل کېږي، خو دا چې نورو قوانینو بل ډول اټکل کړي وي:

۱- بشپړ شوی رهن یا د حبس حق نسبت نه بشپړشوي رهن یا د حبس حق ته د لومړیتوب حق لري .

د نه بشپړو شــوو رهنـــي حقوقـــو لومړیتوب، پر مرهونه باندې دهغـــو د مرتب کېدو د لومړیتوب پربنـــسټ ټاکل کېږي.

۲- د دوو یا له دوو څخه د زیاتو رهنونو یا د حبس تکمیل شوی حق

مرهونه باشد .

۳- ماحصل مرهونه به شکل پول ، چک و سپرده در مؤسسات مالی باشد.

**تعیین تقـــدم میـــان حقـــوق رهنی**

**مادهٔ پانزدهم :**

(۱) رهن دهنده می تواند، بـــیش ازیـــک حـــق رهنـــی را درعـــین مرهونه قایل گردد.

(۲) حق تقدم به ترتیب ذیل تعیین می گردد، مگر اینکه سایر قوانین طور دیگری پیشبینی نموده باشند:

۱- رهن یاحق حبس تکمیل شده نسبت به رهن یا حق حبس تکمیل ناشده دارای حق تقدم میباشد.

تقـــدم حقـــوق رهنـــی تکمیـــل ناشـــده بـــر اســـاس اولویـــت مرتـــب شـــدن آن بـــر مرهونـــه تعیین می گردد.

۲- تقـــدم دو یـــا بـــیش ازدو رهن یا حق حبس تکمیـــل شـــده

لومړیتوب، د لاندې مواردو پربنسټ تعیین کېږي:
– دثبت ترتیب.
– د رهن اخیستونکو حیازت.
– د رهن د بشپړېدا نورې لارې، چې په دې قانون کې تصریح شوي دي .
۳– ددې فقرې په (۲) جز کې درج شوی لومړیتوب په هغهٔ صورت کې د اعتبار وړدی چې له ثبت څخه وروسته هغه موده چې په تېرېدوېې د ثبت اطلاعیه بې اعتباره یا د رهن حق له بشپړوالي څخه ساقط شوی وي.
۴– د پلورنې د هغو پیسو رهن چې د موجودی د جنسونو یا یې د ماحصل په هکله مرتبه (انشأ) اخستی وي، پر هماغوجنسونو باندې پرنوروړهني ژمنو د لومړیتوب حق لري ، پدې شرط چې رهن بشپړشوی وي او د نومووړي رهن رهن اخیستونکی، پخوانی (د دمخه) رهن اخیستونکی، دموجودی پرجنسونو باندې د رهن ورکوونکي حیازت

بر اساس موارد ذیل تعیین می شود:
– ترتیب ثبت.
– حیازت رهن گیرندگان.
– سایر شیوه های تکمیل رهن که درایـن قانون تصریح شده است.
۳– تقدم مندرج جز (۲) این فقره درصورتی معتبر می باشد که بعد از ثبت مدتی که در طی آن اطلاعیه ثبت بی اعتبار ویا حق رهن از تکمیل ساقط گردیده باشد، وجود نداشته باشد.
۴– رهن پول خرید که درمورد اجناس موجودی یا ماحصل آن مرتب (انشأ) گردیده باشد، بر سایر تعهدات رهنی بر همان اجناس دارای حق تقدم می باشد، مشروط بر این که رهن تکمیل گردیده و رهن گیرندهٔ رهن متذکره، رهن گیرندهٔ قبلی را از حیازت رهن دهنده بر اجناس موجودی

څخه خبرکړي. پدې خبــر تیــاکې څرګندیږي چې خبرورکـــوونکی د موجودۍ پرجنسونو باندې د رهن د حق خاوند ګرځېدلی یا د دغه شان حق د ترلاسه کولوغوښتنه لـــري. پدې صورت کې لازمه ده چــې د موجودۍ د جنسونو څرګندول (توضیح) په هغو کې د اقلامواو انواعو پـــه تفکیک سره درج شي .

۵- د پلـــورنې د پیـــسو رهـــن، پر هغو نورو رهني حقوقو بانـــدې چې د رهن ورکوونکي په واســـطه د هماغې مرهونې پـــه هکلـــه مرتـــب (انشأ) شوي وي، د لانـــدې مـــالونو په هکله، د لومړیتوب حق لري:

- مرهونه یا یې ماحصل، دغیرعیني مالونو یا د موجودۍ د اجناسو په استثنې پدې شرط چې نومـــوړی رهـــن، د رهن ورکوونکي له حیازت یـــا د رهن ورکوونکي په امر د بل شخص له حیازت وروسته، د (۲۰) ورځو په ترڅ کې بشپړشوی وي.

مطلع ســـازد. در ایـــن اطلاعیـــه توضیح می گردد که اطلاع دهنده، حق رهن بر اجنـــاس موجـــودی را صاحب گردیـــده یـــا توقـــع تـــــصاحب چنـــــین حـــــق را دارد، درایـــــن صـــــورت لازم اســـت تـــا توضـــیح اجنـــاس موجودی به تفکیک اقلام یا انواع در آن درج گردد.

۵- رهن پـــول خریـــد درمـــورد اموال ذیـــل بـــر ســـایر حقـــوق رهنی که توســـط رهـــن دهنـــده در مورد همان مرهونـــه مرتـــب (انـــشأ) شـــده باشـــد، دارای حق تقدم است:

- مرهونه یا ماحصل آن به استثنای اموال غیرعینی یا اجناس موجودی، مشروط بر اینکه رهن متذکره در خلال (۲۰) روز بعد از حیـــازت رهن دهنده یا حیـــازت شـــخص دیگری به امـــر رهـــن دهنـــده، تکمیل شده باشد.

– غیر عیني مرهونه یا یې ماحصل ، پدې شرط چې په غیرعیني مالونو باندې له مرتب کېدو وروسته د (۲۰) ورځو په ترڅ کې دهغې رهن بشپړ شوی وي.

**دنه بشپړشوي رهن پرحقوقو باندې لومړیتوب**

**شپاړسمه ماده :**

(۱) دنه بشپړشوي رهن په نسبت دمحکوم له داین طلب، د لومړیتوب دحق لرونکی دی، پدې شرط چې:

۱– رهن اخیستونکي، مخکې لدې چې د محکمې حکم د داین په ګټه صادرشي د ثبت خبرتیا، ثبت کړې نه وي .

۲– رهن اخیستونکی، د رهن له بشپړېدو د مخه د محکوم له داین له موجودیت څخه خبرتیا ولري .

(۲) هغه پیرودونکی چې له خبرتیا د نابشپړشوي رهن له بشپړېدوڅخه مخکې یې مرهونه پیرلې وي ، نسبت یاد شوي رهن ته د لومړیتوب حق لري.

– مرهونهٔ غیرعینی یا ماحصل آن، مشروط بر اینکه رهن آن در خلال (۲۰) روز بعد از مرتب شدن به اموال غیرعینی، تکمیل شده باشد.

**تقدم برحقوق رهن تکمیل ناشده**

**مادهٔ شانزدهم :**

(۱) طلب داین محکوم له نسبت به رهن تکمیل ناشده، دارای حق تقدم میباشد، مشروط بر اینکه :

۱– رهن گیرنده، اطلاعیهٔ ثبت را قبل از اینکه ، حکم محکمه به نفع داین صادر گردد، ثبت نه نموده باشد.

۲– رهن گیرنده، از موجودیت داین محکوم له قبل از تکمیل رهن اطلاع داشته باشد.

(۲) مشتری که بدون اطلاع از رهن تکمیل ناشده و قبل از تکمیل آن، مرهونه را خریداری نموده، بر رهن متذکره دارای حق تقدم میباشد.

(۳) د مرهونې مستأجر چې د رهن له خبرتيا پرته يې په هغې کې تصرف کړی وي، پر نومـوړي رهـن بانـدې د هغـه تـر بشپړېدو پـورې د لومړيتوب حق لري .

**پر راتلونکو پوررونو باندې د رهن د حق لومړيتوب**

اوولسمه ماده :

(۱) دهغو ديونوپه هکلـه چـې د وجوهو د تمويل (څه په اوس يا په راتلونکې کې) په منظور، د رهنـي توافقليک يا اړوندو موافقو مطابق، ورکړل شوي وي، د رهن د حـق لومړيتوب په پام کې نيول کيږي.

(۲) که چيرې رهن اخيستونکی د محکوم له داين په هکله خبرتيا ترلاسه کړي، د هغه بشپړشوی رهن، د محکوم له داين د حقوقو په نسبت د لومړيتوب حق نلري، خو داچې :

۱- پيسې له رهـن ورکـوونکي پرته بل شخص ته په پور ورکـړل شوې وي .

(۳) حق مستأجر مرهونه که بدون اطـلاع از تکميـل رهـن، در آن تصرف نموده، بـر رهـن متذکره الـی تکميـل آن دارای حق تقدم می باشد .

**تقدم حق رهـن بـر قـروض آينده**

مادۀ هفدهم :

(۱) تقدم حـق رهـن درمـورد ديونی که بـه منظـور تمويـل وجوه (چه درحال يـا در آينـده) طبـق توافقنامـۀ رهنـی يـا توافقات مربوط پرداختـه شـده باشـد، رعايـت مـی گـردد .

(۲) هرگاه رهن گيرنده در مورد دايـن محکوم له اطـلاع حاصـل نمايـد ، رهن تکميل شده وی نسبت بـه حقوق داين محکوم له دارای حق تقدم نمی باشد، مگر اينکه :

۱- پول به شخص ديگـری بـه غير از رهن دهنـده بـه قـرض داده شده باشد.

۲- رهن اخیستونکي د خدمتونو (ساتنې، حفاظت اوڅارنې یا ترمیم) له بابته مناسب لګښتونه زغملي وي.

(۳) که چېرې مرهونه دمحکمې په حکم ضبط یا مصادره شي، رهن اخیستونکی رهن ورکوونکي ته د تمویلي وجوهو دتدارک لپاره د پور په ورکولو مکلف ندی .

## د مرهونې د پېرودونکي او مستأجر حقوق

اتلسمه ماده :

(۱) که چیرې پېرودونکي د مرهونې مناسبه بیه ورکړې وي، پدې صورت کې پېرودونکی په دغه ډول مالونو کې د بشپړشوي یا نه بشپړ شوي رهن له حق څخه بري الذمه دی. په دغه حکم کې هغه حالات هم شاملېږي چې پېرودونکی د رهن د حق له شتون (وجود) څخه خبر وي.

(۲)که چېري مستأجر د تر اجارې

۲- رهن گیرنده مصارف مناسب را از بابت خدمات (نگهداری، حفظ و مراقبت یا ترمیم ) مرهونه متحمل شده باشد.

(۳) هرگاه مرهونه به حکم محکمه ضبط یا مصادره گردد، رهن گیرنده مکلف به دادن قرض برای تدارک وجوه تمویلی به رهن دهنده نمی باشد.

## حقوق مشتری و مستأجر مرهونه

مادۀ هجدهم :

(۱) هرگاه مشتری قیمت مناسب مرهونه راپرداخته باشد، در این صورت مشتری ازحق رهن تکمیل شده یا تکمیل ناشده در چنین اموال بری الذمه می باشد. این حکم شامل حالاتی نیز می گردد که مشتری از وجود حق رهن آگاه باشد.

(۲) هرگاه مستأجر قیمت مناسب

لاندې مرهونې مناسبه بیه ورکــړې وي، پدې صورت کې مستأجر پــر دغه ډول مالونو باندې د بشپړ شوي یا نه بشپړشوي رهن له حق څخـــه بري الذمه دي .

دغه حکم په هغو حالاتو کې هـــم شامل دی چې مستأجر د رهن د حق له شتون څخه خبروي.

(۳)که چېرې د مرهونې بیه له پنځو زرو(۵۰۰۰) افغانیو څخه په لـــږه (کمه) د پلورنې یا اجارې تابع وي ، پېرودونکی یا مستأجر په نومـــوړې مرهونه کې درهن له حـــق څخـــه برى الذمه دى.

(۴) هغه پېرودونکی مستأجر چې د فارمدارۍ لپاره د ګټې اخستنې وړ مالونه، د رهن له حق څخه له خبرتیا پرته پېري یا يې اجاره کوي، د رهن له بشپړشوی یا نه بشپړشوي حـــق څخه برى الذمه دى، پدې شرط چې د نوموړو مالونو د پېرودنې بیه یا د اجارې په صورت کې په مارکیټ کې

مرهونهٔ تحت اجاره را پرداختـــه باشد، در این صورت مـــستأجر از حق رهن تکمیل شده یا تکمیـــل ناشده بر چنین اموا ل برى الذمه مى باشد.

این حکم شـــامل حـــالاتى نیـــز مى گردد که مستأجر از وجود حق رهن آگاه باشد.

(۳) هرگـــاه قیمـــت مرهونـــه، تابع فروش یا اجارهٔ کمتر از پنج هزار (۵۰۰۰) افغـــانى باشـــد ، مشترى و مستأجر از حق رهن در مرهونـــهٔ مـــذکور بـــرى الذمـــه مى باشند.

(۴) مشترى یا مستأجرى که اموال قابل استفاده براى فارمـــدارى را بدون اطلاع از حق رهن، خریدارى یا اجاره مى نمایند، از حق رهـــن تکمیل شده یـــا تکمیـــل ناشـــده برى الذمه مى باشند، مشروط بـــر اینکه قیمت خرید اموال متذکره یا درصورت اجاره، قیمـــت اجـــاره

د اجارې د مالونو بیه له پنځو سو زرو (۵۰۰۰۰) افغانیو څخه زیاته نه وي.
(۵) هغه کس چې پیسي د ارزښت په بدل کی لاسته راوړي د تکمیل شوي رهن حق څخه په نوموړي پیسو بری الذمه وي.
(٦) هغه کس چې دموتوري نقلیه وسیله پیري اویایي اجاره کوي په هغه صورت کې چې درهن له حق څخه په نوموړي نقلیي وسیلی خبرنه وی او د نوموړی وسیلی سریال لمبر د رهنی حقونو د ثبت په خبرتیا کی درج نه وي نو د رهن له حق څخه په نوموړي نقلیي وسیلی بری الذمه دی.
(۷) دحبس د حق لرونکی چی مرهونه یی مخکی د رهن د تکمیل کېدو څخه په اختیار کی نیولی وی او یا هم ددی باعث شی چی مرهونه دده

اموال درمارکیت ازپنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی بیشتر نباشد.
(۵) شخصی که پولی را در عوض ارزش بدست می آورد از حق رهن تکمیل شده بر روی پول متذکره بری الذمه می باشد.
(٦) شخصی که وسیله نقلیه موتوری را خریداری یا اجاره می نماید درصورتی که ازحق رهن بالای آن وسیله مطلع نباشد ونمبر سریال وسیله متذکره دراطلاعیه ثبت شده حق رهنی درج نه شده باشد از حق رهن متذکره بر آن وسیله نقلیه بری الذمه می باشد.
(۷) دارنده حق حبس که قبل از تکمیل حق رهن، مرهونه را در اختیار خود گرفته باشدیا باعث شود که مرهونه به نفع وی مصادره

په نفع مصادره شی د رهن له حق نه بری الذمه دی.

**د تدارک کوونکي د طلباتو د لومړیتوب حق**

**نولسمه ماده :**

هغه شخص چې دمعمولې سودا ګرۍ په بهیرکې له مرهونې سره په ارتباط کې خدمتونو یا مواد تدارک کړي، د موادو او خدمتونو د ارزښت په تناسب په مرهونه کې ذیحق دی او پربشپړشوي یانه بشپړشوي رهن باندې د لومړیتوب حق لري.

**په غیرمنقولومالونو کې درهني حقوقو ترمنځ دلومړیتوب حق**

**شلمه ماده :**

(۱) پرکرنیزو محصولاتو یا منقولو مالونو باندې رهن چې له غیر منقولو مالونوسره یوځای (ملحق) شوي وي یا یې د الحاق نیت (قصد) موجودوي، عقد کېدی شي، پدې صورت کې نوموړی رهن، ددې

گردد، از حق رهن متذکره بری الذمه می باشد.

**حق تقدم طلبات تدارک کننده**

**مادۀ نزدهم :**

شخصی که در جریان تجارت معمول، خدمات یا مواد را در ارتباط با مرهونه تدارک نماید، به تناسب ارزش مواد و خدمات درمرهونه ذیحق بوده و بر رهن تکمیل شده یا تکمیل ناشده دارای حق تقدم می باشد.

**حق تقدم میان حقوق رهنی در اموال غیر منقول**

**مادۀ بیستم:**

(۱) رهن بر حاصلات زراعتی یا اموال منقول که با اموال غیر منقول ملحق گردیده یا قصد الحاق آن وجود داشته باشد، عقد شده می تواند، در این صورت رهن مذکور مطابق احکام این

قانون د حکمونو مطابق د لومړیتوب د حق لرونکی دی ،پدې شرط چې په بانکي معاملوکې د غیر منقولومالونو درهن د قانون له حکمونو سره په تضادکې نه وي.

(۲) د رهن پر کرنیزو محصولاتو یا هغو منقولو مالونو باندې چې له غیر منقولو مالونو سره ملحق دي ، د کرنې په وخت کې د غیر منقولو مالونو د مالک د حقوقو په نسبت یا کله چې منقول مالونه له غیر منقولو مالونوسره ملحق شي ،دلومړیتوب حق لری.که چېری رهن بشپړشوی وي، پدی صورت کې د محکوم له داین د حقوقو په نسبت، د غیرمنقولو مالونو ورروستی تملک کوونکی او رهن اخیستونکی هم د لومړیتوب د حق لرونکي دي.

(۳) د دین د نه ورکړې یا د التزاماتو د نه اجرا په صورت کې، هغه رهن اخیستونکی چی پدې ماده کې ددرج شوو حکمونو مطابق، د لومړیتوب له حق

قانون دارای حق تقدم می باشد ، مشروط بر اینکه با احکام قانون رهن اموال غیرمنقول درمعاملات بانکی در تضاد نباشد .

(۲) رهن برحاصلات زراعتی یا اموال منقول ایکه با اموا ل غیرمنقول ملحق می باشد، نسبت به حقوق مالک اموا ل غیرمنقول در زمان زرع یا حینیکه اموال منقول به اموا ل غیرمنقول ملحق گردد، دارای حق تقدم می باشد. هرگاه رهن تکمیل شده باشد، در این صورت نسبت به حقوق داین محکوم له، تملک کننده و رهن گیرنده بعدی اموا ل غیرمنقول، نیز دارای حق تقدم می باشد .

(۳) در صورت عدم تأدیه دین یاعدم اجرای التزامات، رهن گیرنده ایکه طبق احکام مندرج این ماده از حق تقدم برخوردار باشد،

څخه بـــرخمن وي، کـــولی شـــي حاصلات يا منقـــول مالونـــه لـــه غيرمنقولو مالونو څخه جلا کړي .

## له منقولومالونو سره د الحـــاق شوو مالونو ترمنځ د رهني حق لومړيتوب

يوويشتمه ماده :

(۱) که چېرې مالونه داسې ســـره ملحق شي چې خپل هويت له لاسه ورنکړي او له لګښتونو او ويجاړېدو پرته سره جلا کيدی شي، نوموړي مالونه ملحق ګڼل کېـــږي، پـــدې صورت کې پر نوموړو مالونو باندې درهن حق ،له الحاق وروسته هـــم دوام مومي.

(۲) که چېرې رهن لـــه الحـــاق وروسته بشپړشي، پدې صورت کې نوموړی رهن بشپړشوی پاتې کېږي، د لاندې اشخاصو پر حقوقو باندې د لومړيتوب حق لري :

۱- د هغو مالونو مالک چې تر رهن

می تواند حاصلات يـــا امـــوا ل منقول را از امـــوا ل غيرمنقـــول جدا سازد.

## حق تقدم رهنی ميان امـــوا ل الحـــاق شـــده بـــا امـــوا ل منقول

مادۀ بيست و يکم :

(۱) هرگاه اموال با هم طـــوری ملحق گردند که هويت خود را از دست نداده و بدون مصارف يـــا تخريب از هم جدا شده بتواننـــد، اموال متذکره ملحق دانسته مـــی شود، در اين صورت حق رهن بر اموال متذکره، بعد از الحاق نيـــز ادامه می يابد.

(۲) هرگاه رهن بعد از الحاق اموال تکميل گردد ، دراين صورت رهن متذکره تکميل شده باقی مانـــده، بر حقوق اشخاص ذيل دارای حق تقدم می باشد:

۱- مالک اموالی کـــه امـــوا ل

لاندی مالونه ورسره ملحق شوي وي .

۲- محکوم له داین .

۳- هغه شخص چې وروسته د مالونو مالک یا رهن اخیستونکی ګرځي.

(۳) دنه ورکړې یا د التزاماتو د نه اجراپه صورت کې، ددې قانون په پنځم فصل کې د درج شووحکمونو له په پام کې نیولوسره، هغه رهن اخیستونکی چې پدې ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د لومړیتوب دحق لرونکي وي، کولی شي خپله مرهونه په منقولو مالونو کې له الحاق وروسته، جلا کړي.

<u>په ګډو مختلطو جنسونوکې د رهني حق لومړیتوب</u>

دوه ویشتمه ماده :

(۱) پرګډو جنسونو باندې د رهن حق انشأ کېدلی نشي، خو داچې مرهونه په ګډو جنسونو کې شامله شي، پدې صورت کې پر محصول باندې درهن حق هم مرتب کېږي .

تحت رهن به آن ملحق گردیده است .

۲- داین محکوم له .

۳- شخصی که بعداً مالک یا رهن گیرنده اموال می گردد .

(۳) در صورت عدم تأدیه یا عدم اجرای التزامات، بانظرداشت احکام مندرج فصل پنجم این قانون رهن گیرنده ایکه طبق حکم مندرج این ماده دارای حق تقدم باشد، می تواند مرهونه خود را بعد از الحاق در اموال منقول، جدا سازد .

<u>حق تقدم رهنی در اجناس مختلط</u>

مادهٔ بیست ودوم :

(۱) حق رهن براجناس مختلط انشاء شده نمی تواند، مگراینکه مرهونه در اجناس مختلط شامل گردد، دراین صورت حق رهن برمحصول نیزمرتب می گردد.

رهن اخیستونکی کولی شي، د نوموړي محصول په هکله درهن حق، د اصلي مرهونې د ارزښت په پرتله، په ګډو جنسونو کې د هغو له شاملېدو د مخه، تطبیق کړي .

(۲) که چېرې درهن له یوه حق څخه زیات، له محصول سره الحاق شي، بشپړشوی رهن نسبت هغه رهن ته چې په ګډو جنسونوکې د مرهونې د شاملېدو په وخت کې، نا بشپړوي، د لومړیتوب حق لری.

(۳) که چېرې د محصول په هکله له یوهٔ بشپړشوي رهن څخه زیات موجود وي، پدې صورت کې نوموړي حقوق د جنسونو دګډېدو په وخت کې د اړوندې مرهونې، دارزښت د تناسب له په پام کې نیولو سره، په برابره (مساوي) مرتبه کې ځای مومي.

رهن گیرنده می تواند، حق رهن را درمورد محصول متذکره به تناسب ارزش مرهونه اصلی قبل از شمولیت آن در اجناس مختلط تطبیق نماید.

(۲) هرگاه بیش از یک حق رهن به محصول الحاق گردد، رهن تکمیل شده نسبت به رهنی که در زمان شمولیت مرهونه دراجناس مختلط، نا تکمیل بوده، دارای حق تقدم میباشد .

(۳) هرگاه بیش از یک رهن تکمیل شده درمورد محصول موجود باشد، در این صورت حقوق متذکره با نظرداشت تناسب ارزش مرهونهٔ مربوط در زمان اختلاط اجناس، در مرتبهٔ مساوی قرار می گیرند.

**په بها لرونکو سندونو او نورو اقلامو کې د رهني لومړیتوب حق**

**درویشتمه ماده:**

(۱) په هغه بهالرونکي سند چې د بانکدارۍ د قانون د حکمونو مطابق ترتیب او ترلاسه شوی وي، د رهن حق، د بشپړشوي رهن په نسبت، د لومړیتوب د حق لرونکی دی پدې شرط چی درهن حق مخکې له مخکی په سندکی نه وی ذکرشوی.

(۲) هغه شخص چې بهالرونکی سندیې وپېري یا په هغه کې د رهن حق ترلاسه کړی وي، د بشپړشوی رهن په پرتله د لومړیتوب حق لرونکی دی پدې شرط چې بها لرونکی سند یا درهن حق یې د ارزښت د ورکړې په بدل کې لاس ته راوړي وي، د رهن حق مخکی له مخکی په قیمت لرونکي سندکې نه وي ذکر شوي.

(۳) منتقل الیه شخص چې د مالکیت سند لاسته راوړي، په نوموړي سند کې درج پر مرهونې باندې د نورو د

**حق تقدم رهنی در اسناد بهادار و سایراقلام**

**مادۀ بیست و سوم :**

(۱) حق رهن در سند بهاداری که طبق احکام قانون بانکداری ترتیب وکسب شده باشد، نسبت به رهن تکمیل شده دارای حق تقدم می باشد، مشروط بر این که حق رهن قبلاً در سند ذکر نشده باشد.

(۲) شخصی که سند بهادار را خریداری یا حق رهن آن سند را به دست آورده باشد، نسبت به رهن تکمیل شده دارای حق تقدم میباشد، مشروط بر اینکه وی سند بهادار یا حق رهن را در مقابل تأدیۀ ارزش بدست آورده و حق رهن قبلاً درسند بهادار ذکر نشده باشد.

